

د اسلام وروستی

# پیغمبر

صلی الله علیه وسلم

Ketabton.com

ژباړه

زاهدالله درویش وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د اسلام وروستی پیغمبر |
| ژباړه | زاهدالله درویش وزیر |
| ډیزاین او کمپوز | پخپله زاهدالله درویش وزیر |
| کال | دوه زره دوویشت 2022 |
| ناشر | الزاهد نشریاتي ځانګه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**محمد بن عبدالله بن عبـدالمطلب** د اسـلام د وروسـتي پيغمـبر نـوم دی. مسـلمانان پـه دې گروهه دي چې محمد, صلی الله عليه وسلم ...

ﷺد الله وروستی پيغمبر دی او تر هغـه وروسـته پيغمـبري يـا نبـوت ختـم شـوی نـو لـه همدې کبله د هغه د خاتم النبيين په نامه هم پېژندل کېږي. دې کاينـاتو دپيـداکوونکی پـه انسانيت باندې دېولو نه لوی احسان دا دی چې ددوی دهدايت لپاره يې وخت پـه وخـت دنياته انبياء عليهم السلام راليږلي دي او بيا په تيره تيره دېولو نه اخر ته يې زمونږ خوږ نبی صلی الله عليه وسلم درحمت اللعالمين په حيث راوليږلو اودهغوي بلنه او د ژوند حالات يې دا رنگ پـه حفاظت کې وساتل چې دهغې بېلگه د نړی په يوانسـانی تـاريخ کـې هيچرتـه هـم نـۀ شی موندل کيدی. درسول پاک ص دژوند ورځې شپې مونږته دارنگ په حفاظت اومکمل ډول رارسيدلی دی چې يو طرف ته خـودهغې د دريښـتنوالی داسـې انتظـام وشـو چـې تراوسـه پورې د هغـې پـه صـداقت کـې ښـوک چـونْ قـدر لـه هـم نـۀ شی کـولی اوبـل طـرف تـه داوږدوالی يې داحال دی چې دحضور (ص) ويناگانې دژوند تيرولو لارې چارې کـړه وړه ناسته پاسته خبرې اترې داستوگنې چلونه کلی کلولی اولاتيريدا چې د خوراک ښښاک ، د ويده کيدو ويښيدو اودو شتو ټوکو پورې واړه حرکتونه دامت مشرانو محفوظ ساتلی دی

لنډه دا چې دهغوی (ص) پحقله يونيم زر کاله پس نن هم مونږ دهرڅه نه خبر يو اوداځکه چې دهغوی (ص) تعليمات ترقيامتـه پـورې پـاتې کيـدونکی دی دلتـه زۀ صرف دحضـور (ص) داولنی ژوند مبارک په حقله څوټکی عرض کول غواړم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحضور پاک (ص) دژوند مبارک دحالاتو نه وړاندې داضروری ده چې مونږ دهغه زمانې تاریخی حالت ته لږه ډیره توجه وکړو کوم چې په هغه وخت کې دعربو یادخواوشا دملکونو وه اودا ځکه چې ددې نه بغیر مونږه دنبوت اهمیت نه شو محسوسولی اسلام چې کوم تعلیم پیش کړی دی دهغې بنیاد په توحیدرسالت اواخرت دی داهغه رڼاده چې ددې نه هغه زمانې کې نه صرف عرب بلکې ټوله دنیا بې خبره او په تیارۀ کې پرته وه داصحیح ده چې درسول پاک نه وړاندې دالله تعالی ډیر نازولی نبیان دنیاته راغلی وو اودزمکې هرګټ ته ئې دتوحیدتعلیم رسولی ۇ دګمراهۍ په تیاروکښې بد بد راګیر وو سپوږمۍ ،نمر، ستوری اوفرښتې غرونه، ماران اوکاڼی بوټی ئې ځان له دخدائی تعالی په نوم نیولی وو دبې شمیره خدایانو په لاس کې ئې د ژوند واګې ورکړې وې او یوحقیقی الله پاک ترې نه هیرۀ .

سیاسی اعتبارسره په دغه زمانه کې دوه ښه طاقتونه موجود وو یوفارس اوبل روم دفارس مذهب مجوسیت ۇ او دروم عیسائیت ددې دوو نه علاوه یهودیانو اوهندوانو هم وجود لرلو اوپه خپل خپل ډول کې ۇ درښتیاوالی دعوی کوله په ایران کې دستورو عبادت عام ۇ نوره دنیاهم په رنګ رنګ اوتوبوتو سر وه لنډه دا چې په هر لور دکفر تور تم وه انسانیت دخپل خلاصون دپاره دچاخوا خوږی په انتظار کې خپلې دوه سترګې څلور کړې وې دعربو په یوه لویه حصه کې یعنې قری وادی ،خیبر اووزک کې دیهودیانو اکثریت ۇ مدینه کې هم دیهودیانو شمیر زیات ۇ په ملک کې دشرک دود دستور راج ۇ خلقو دبتانو کاڼو فرښتو اوپیریانو عبادت کولو .

لیکن ددې هرڅه باوجود دیوخدائې تصور هم خلقو کې موجود ۇ خوداتردې حده پورې چې هغه به ئې د نورو خدایانو نه لوئی خدائې ګڼلو ولې دا عقیده ئې دومره کمزورې وه چې عملاً به ئې په خپلو لاسونو جوړ شوی خدایان هرڅه ګڼل اوپه دې غرض ئې خانه کعبه کې چې اسلام نه اګاهو به ورته بیت الحرام وئیلی شو درې سوه شپیتۀ بتان ایښودی وو چې دژوند هره کشاله کې به عربو دوی ته دخپلې حاجت روایۍ پحقله منت زاری

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوله اولسی حیثیت سره هم هر رنګ بدی په دوی کې پیدا شوې وې ولې بیاهم دعربو بعضې صفتونه دقدر وړ دی په دې کې میلمستیا پیاوړتوب، دسختی ژوند تیرول دژبې فصاحت ،دحافظې مضبوطی اوپه لوظ قول ټینګ پاتې کیدل وغیره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زیږیدنه

موږ ملسمانان پدې گروهه او ایمان لرو چې محمد صلی الله علیه وسلم د څښتن تعالی رالیږل شوې رسول او وروستې نبي او د رسولانو پای په ده شوې دی. محمد صلی الله علیه وسلم یوې کورنۍ، قبیلې، یا قوم ته نه دی رالیږل شوې، بلکه ټولې نړۍ ته رالیږل شوې، که هغه انسان دې که پیرې دی. نبي علیه السلام د دوشمنبې په ورځ، د ربیع الاول په دولسمه نیټه، د فیل له کال څخه پنځوس ورځې وروسته چې د کال له ۵۷۰زیږیز کال سره سمون خوري، په مکه مکرمه کې زیږېدلې.

## نبوي نومونه

- محمد:رسول الله
- أحمد:
- الماحی:
- الحاشر:
- العاقب:
- هغه نبي چې وروسته ترې بل نبي او رسول نشته.

## پیداېښت او روزنه

د اسلامي سیرت د کتابونو له مخې محمد صلی الله علیه وسلم په بني هاشم کورنۍ کې یتیم وزیږېد. پلار یې دده مبارك له پیداېښت څخه لږ مخکې وفات شوې ؤ. محمد نوم ورته عبدالمطلب چې نیکه یې کېده، غوره کړ. دا نوم په هغه وخت کې په عربو کې چا نه پېژانده. د عربو دا عادت ؤ چې خپل کوچنیان به یې د رضایي مېندو په لاس ورکول ترڅو د ناروغیو څخه په امن کې پاتې شي، او دارنگه ددوي جسمونه او اعصاب قوي شي. او لدې ټولو څخه زیات پام به یې د کلیوالي سوچه عربي ژبې ته ؤ، ترڅو ددوي کوچنیان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوچه عربي ژبه زده کړي. نو بني سعد قبيلې ښځې د کوچنيانو ترلاسه کولو لپاره د مکې پر لور راوخوځېدې، خو هېچا هم دا نه خوښوله چې د محمد صلی الله علیه وسلم په څېر يتيم کوچنې ځان سره بوځي. ځکه له داسې يتيم څخه د څه شي ترلاسه کول ورته ناشونې ښکارېده چې پلار به يې نه ؤ ژوندې. ټولې ښځې د کاروان پر لور روانې وې او خوشالي يې کولې ځکه چې هرې يوې د روزلو لپاره کوچنې موندلې ؤ خو حليمه سعديه يو له هغو نا امېده ښځو څخه وه چې محمد صلی الله علیه وسلم يې ددې لپاره پرېښې ؤ چې هغه خوارکې يتيم ؤ. نو په پای حليمې او د هغې خاوند دا ويټيله چې د قوم له شرمه چې مبادا سبا ونه وايي چې چا ورته زوې د روزلو لپاره ورنه کړ، پدې سلا راغله چې محمد صلی الله علیه وسلم له ځان سره کلي ته بوځي. کله چې کاروان د بني سعد په لورې يون پېل کړ نو د حليمې بي بي ډنګره اوښه داسې په منډه وه چې له ټول کاروان څخه مخکې شوه او کلي ته ورسېده. ټول کاروان دې معجزې ته هك پك پاتې ول. بي بي حليمه دې ته اريانه وه چې يوخوا خپل ماشومان نه شي مړولای، او له بلې خوا دا يتيم سره به څه کوي، خو د ښتن تعالی کارونه وه، د بي بي حليمې شېدې دومره زياتې شوې چې د ټولو ماشومو او محمد صلی الله علیه وسلم به وخښلې نو بيا به هم پاتې وی. د چېليو غولانځې راپرېښودې. اوښه ښه مسته او له ډنګروالي خلاصه شوه. ملك ټول زرغون شو. هرېخوا خوشاله خوشالي راغله. بي بي حليمې دا درك کړه چې دا ټول نعمتونه يواځې د همدې يتيم کوچني له برکه پر دوي راورېږي. نو د هغه په روزنه او پاملرنه کې به يې هېڅکله هم دريغ نه کاوه. نبي علیه السلام په بني سعد کې تر څلورو کلو پورې و اوسېده، ان تردې چې د سينې څېرې کېدنه (شق الصدر) ورپېښ شول. نو حليمه بي بي پدې کوچني ووېرېده چې نه مبادا څوك ضرر ور ونه رسوي، نو ځکه يې خپلې مور بي بي امنې ته ور وستلو. کله چې شپږو کلو ته ورسېد نو مور بي بي يې وغوښتل ترڅو له ځان سره يې د پلار قبر ته بوځي. نو له خپل يتيم زوې محمد صلی الله علیه وسلم او خدمتګارې سره مکې معظمې څخه د مدينې منورې په لورې وخوځېده. بېرته راتلو په وخت په لار کې بي بي امنه ناروغه او په حق ورسېده. محمد صلی الله علیه وسلم د خادمې سره د هغه د نيکه څنګ ته وروستل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو. پس لدې له عبدالمطلب سره اوسېده. نيکه به ورباني ډېر خيال کاوه، ان تـردې چـې د قرېشو په غونډو کې به يې خپل څنگ ته کېناولې ؤ چې دا کار په قرېشو ښه نه لگېده. کله چې محمد صلى الله عليه وسلم ۸ کلن شو نو نيکـه يـې هـم پـه مکـه معظمـه کـې پـه حـق ورسيد. مخکې لدې چې مړ شي خپل نوسې يې ابو طالب چې د پـلار سـکنې ورور يـې ؤ ته وسپاره. ابو طالب د خپل وراره ترخپلې وسې او له وسې اخوا هم روزنـه وکـړه، وراره لـه خپلو زامنو څخه ورته ډېر گران ؤ. محمد صلى الله عليه وسلم د خپلـې ځـوانۍ پـه لومړنيـو کلونو له خپلو رضاعي ورونو سره په بني سعد کـې پسـونه څـرول، او پـه مکـه کـې خپلـې کورنۍ ته. وروسته لدې چې ښه ځوان شو سوداگرۍ ته يې مخه کـړه. نبـي صـلى الله عليـه وسلم له نبوت څخه مخکې په رښتوني او امانت کار (صـادق الامـين) نومـول شـوي ؤ، ان دښمنانو به يې هم ورسره خپل امانتونه اېښودل.

## د نبي عليه السلام صحابه

ابو بکر صديق رضي الله عنه -حضرت عمر فـاروق رضي الله عنـه -عـثمان رضي الله عنـه - علي بن أبي طالب - خالد بن الوليد رضي الله عنه - عمرو بن العاص رضي الله عنـه - عـمار بن ياسر رضي الله عنه - بلال بن رباح - أبي بن کعب - سعد بن أبي وقاص - سعد بن معاذ - عبد الله بن عمر بن الخطاب - عبد الرحمن بن عوف - الزبير بن العوام - طلحة بن عبيدالله - سعيد بن زيد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سیدنا محمد د ژوند مهمې پېښې په څو لیکو کې

## شپږم زېږېزه پېړۍ

- ۵۴۵. د عبدالله بن عبدالمطلب زېږېدنه.
- 571م. د نبي علیه السلام زېږېدنه د قیل په کال کله چې د یمن واکمن حبشي-ابرهه غوښتل په مکه مکرمه برید وکړي، خو پدې برید کې یې خپل سر وخوړ.
- 577م. نبي علیه السلام مدینې منورې ته له خپلې مور بي بي سره ځي، چې د لارې په اوږدو کې یې مور بي بي په حق رسېږي.
- 580 م. دنبي علیه السلام د تره عبدالمطلب مړینه .
- 583 م. له خپل تره ابو طالب سره د شام په لورې په سوداګریز کارون کې یون پیل کول، کله چې یهودي راهب بحیرا په بصره کې د هغه ونې لاندې ولیده چې ښاخونه یې په نبي علیه السلام باندې راښکه کړي وه، نو نوموړي راهب ابو طالب ته دده په خوندي ساتلو کې سپارښتنه وکړه.
- 586م. د حرب الفجار جګړه کې ګډون کول.
- 591 م. النبي محمد ینضم لحلف الفضول لنصرة الضعفاء .
- 594 م . نبي صلی الله علیه وسلم له سیده خدجه رضي الله عنها سره په سوداګرۍ کې مرسته کوي، او د هغې سوداګریزه مالونه د شام په لورې وړي.
- 595م .نبي علیه السلام له خدیجې رضي الله عنها سره واده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اووم زیږیز پېړی
- 605 م. نبي علیه السلام د توره ډبره (حجر الاسود) د ټولو قرېشو پـه اسـتازیتون د کعبې شریفې په دېوال کې کېدې.
- 610 م . د لومړي ځل لپاره د حرا په غـار کـې وحـې (قـران) راغلـه، او د څښـتن تعالی له لورې رسول غوره شو.
- 613 م. رسول علیه السلام د ساره غره په څنګ کې خلك اسلام ته راوبلل.
- 614 م . رسول علیه السلام بني هاشم اسلام ته راوبلل.
- 615م. د مسلمانانو زورول د قرېشو لخـوا، او د ځینـو کـډه کېدنـه حبشـې تـه پـه لومړي هجرت کې.
- 616 م. د مسلمانانو دوهمه کډه کېدنه حبشې ته.
- 617 م. د قرېشو لخوا د اړیکو پرېکول او د رسول صلی الله علیـه وسـلم او د بنـي هاشم راګېرول په شعب کې د مکې څخه له باندې.
- 619م . د بندیزونو پورته کول. د ابو طالب او خدیجې (د رسول الله صلی الله علیه وسلم ماندینه) رضي الله عنمها مړینه. او دا کال د خپګان په کال ونومول شو.
- 620 م . د رسول الله صلی الله علیه وسلم سفر طایف ته. او د اسرا او معراج سفر.
- 621م. د عقبه لومړې تړون.
- 622م. د عقبه دوهم تـړون. او د رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم هجـرت یـثرت (مدینې) په لورې.
- 624 م . د بدر غزا چې د مسلمانانو په بري تمامه شوه. او د بنـي قېنقـاع یهـود لـه مدینې منورې څخه وشړل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 625م. د احد پېښه او د ۷۰ صحابه ؤ په شهادت رسېدل د منی له کـوهي سره، او د بني نظير يهودو شړل له مديني منورې څخه.
- 626م. د بني المصطلق غزا.
- 626م . د خندق غزا. وترحيل يهود بني قريظة من المدينة المنورة.
- 627م. د رسول الله صلى الله عليه وسلم او قريشو ترمنځ د حديبيې تړون.
- 629م.حجة الرسول لمكة . د مؤتة غزا د روم پرضد.
- 630 م .د مکې برې .
- 631 م . د تبوك غزا. عام الوفود .
- 632م . حجةالوداع . د رسول الله مړينه . دابي بكر غوره کول د رسول الله د خليفه په توگه. او د اسامه په مشرۍ يوه ډله مجاهدين د شام په لورې لېږل.

## دنبوي نسب لړۍ

رسول الله صلى الله عليه وسلم تېر د عرب په بنو اسماعيل کـې دقريشـو دقبيلـې دهاشـم لـه کورنۍ څخه دی چې دنسب لړۍ يې داده : محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بـن عبدالمناف بن قصی بن کلاب بن کعب بن لؤی بن غالب بن فهـر بـن مالـك بـن نضر-بـن کنانه بن خزيمه بن مدرکه بن الياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان . له تاريخي رواياتو څخه څرگنديږي چې له عدنان څخه تر حضرت اسماعيل عليـه السـلام پـورې دڅلويښـتو پلرونو واټن دی خو په همدې منځ کې ټول نومونه ثبت شوي نه دي ځکه عربو به په لـرې ليکونو کې يواځې وتلي نومونه يادول هغه نومونه چې له عـدنان څخـه تـر اسـماعيل عليـه السلام پورې ثبت شوي دا دي : عدنان بن عدو بن المقوم بن تارح بن يثحب بن يعرب بـن ثابت بن اسماعيل بن ابراهيم عليهما السلام .

(c) ketabton.com: The Digital Library



درسول الله صلی الله علیه وسلم زیږیدنه

دیوه وتلي مصري هیئت پوهاند محمود پاشا فلکي د ریاضي له څیړنې سره سم رسول الله صلی الله علیه وسلم دربیع الاول په نهمه نیټه ددوشنبې په ورځ چې د571 م کال داپریل دمیاشتې له شلمې نیټې سره سمون خوري زیږیدلی . پلار یې تر پیدایښت له مخې وفات شوی وو , او عبدالمطلب ورباندې محمد نوم کېښود. رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دوه درې ورځې بي بي آمنې ,بیا دابو لهب وینځې (ثوبیي) او وروسته حلیمې سعدیي تی ورکړ , دعربو دا دود ووچي خپل ماشومان به یې له ښاره دباندې ښځو ته دشیدو ورکولو لپاره ورسپارل ,او په دې کې دا ګټه وه چې یوخو به ماشومانو دعربې ژبې سوچه لهجه زده کوله او بل داچې دعربو ځانګړتیاوې به پکې راتلې په همدې موخه به دکلیو ښځې په کال کې دوه ځله ښار ته راتلې اوماشومان به یې وړل . درسول الله صلی الله علیه وسلم له پیدایښت څخه څو ورځې وروسته دهوازن کورنۍ ښځې ښار ته راغلې چې په دوی کې یوه هم حلیمه وه , حلیمې بل ماشوم پیدا نکړای شو ,درسول الله صلی الله علیه وسلم مور بي بي غوښتل تر څو خپل زوی ورته وسپاري حلیمې سره له دې چې دهغوی دبې وزلۍ او دماشوم دیتیمتوب له کبله دخه شي تمه نه درلوده ,خو تر تش لاس تللو ورته ښه وبریښیدله او ماشوم یې له ځان سره واخیست . رسول الله صلی الله علیه وسلم هلته دبني سعد (هوازن) په کورنۍ کې دوه کاله پاتې شو,خو کله چې حلیمې سعدیي هغه ښار ته راوست نو د(وبا) ناروغي ګډه وه نو بي بي آمنې ورته وویل چې محمد صلی الله علیه وسلم بیا له ځانه سره بوځه ,حلیمې سعدیې ومنله او په یوه روایت رسول الله صلی الله علیه وسلم هلته تر شپږو کلونو پورې پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درسول الله صلی الله علیه وسلم مبارکه څیره

درسول الله صلی الله علیه وسلم قد منځنی , غړي برابر , رنګ سـور او سـپین , تنـدی پلـن , وروځي سره نښتي , پزه یې دنګه او لوړوالي ته مایله وه ,مخ یې ډیر غوښن نه وو ,خوله یې څه ناڅه غټه ,او غاښونه یې سره بیل بیل وو,غاړه یـې دنګـه اوسریـې غټـوالي تـه مایـل وو ,سینه یې پراخه ,دسر ویښتان یې نه ډیرتاو راتاو او نه بیخي نیغ نیغ وو,مبارکه ږیره یـې ګڼـه وه ,سترګې یې تورې , باڼه یې لوی او اوږده وو , وُلي یې غوښن ,او دوږو هډونه یـې لـوی وو, په سینه مبارکه یې تر نامه پورې دویښتانو یوه نرۍ لیکه وه , په اوږو اولیځو یې ویښتان وو , دلاسونو ورغوی یې غوښن او پلن وو ,څنګلي یې اوږدې او پونـدې یـې نـازکې وې , دپښو دتلو منځ یې داسې خالي وو چې تر لاندې به یې اوبه تیریدلای شـوې . درسـول الله صلی الله علیه وسلم دوُلیو په منځ کې دکوترې دهګۍ په کچ دنبوت (مهر) ټاپه وه ,رسـول الله صلی الله علیه وسلم به ډیر ګړندی ګرځیده ,خبرې به یې په دمه دمه کولې , کـه بـه یـې دکومې خبرې مطلب تاکیدکول وو نو هغه خبره به یې په بیابیا تکرارولـه ,غـږ یـې لـوړ وو , دخبرو په مهال به یې اکثر اسمان ته کتل ,رسول الله صلی الله علیه وسلم به ډیر لږخنـدل ,او چې خندا به ورغله نو موسکی به شو .

## درسول الله صلی الله علیه وسلم لباس

په نبوي لباس کې کومه ځانګړتیا نـه وه ,عـام کـالي یـې لـه څـادر ,کمـیس او لنـګ څخـه عبارت وو ,یو روایت راغلی چې یو پرتوګ یې اخیستی وو او دا شوني ده چې اغوستی بـه یې وي . ډیری مهال به یې توره پګړۍ په سر کوله ,پګړۍ به په خولۍ برسیره تړلـه ,خـولۍ به یې ساده اوټیټه وه ,شمله به یې کله (په ښي اوږه-ځکه خو هـم کـیڼ لـورې تـه دشـملې پریښودل له شرعي پلوه بدعت بلل شوي) او کله هم دولیو په منځ کې پرته وه ,او کله به یې تر غاړه تاووله . یمني څادر یې ډیر خـوښ وو ,چـې هغـه بـه کرښـې درلـودې , شـامي عبـا

(c) ketabton.com: The Digital Library



(چوپانه) يې هم استعمال کړې ده ,رسول الله صلی الله عليه وسلم به کله کله قيمتي او ښکلې جامې هم اغوستې ,په رنګونو کې يې (سپين) رنګ خوښ وو سور رنګ يې نه خوښاوه . درسول الله صلی الله عليه وسلم به ښه بوی ډير خوښيده , د(سکته )په نوم عطر به يې ډير استعمالول ,رسول الله صلی الله عليه وسلم دموزو پښو کولوډيرخوی نه درلود, خو کومې دڅرمنې موزې چې نجاشي ورته راليږلې وې هغه يې استعمال کړې وې ,معمولا به يې څپليو ته ورته پڼې (موچڼې) په پښو کولې . نبوي بستر يوه څرمن وه , چې دخُرما له پاڼو څخه ډکه شوې وه ,او کټ يې په بوڼ اُوبدل شوی وو. د(محمدرسول الله ) په نوم دسپينو زرو په ګوتې کې يو مهر کندل شوی وو چې دټاپې لګولو په مهال به يې دښي لاس په ګوته کوله ,رسول اکرم صلی الله عليه وسلم په جنګونو کې خول او زغره هم استعمالوله , داُحد په وتلي جګړه کې يې دوه زغري اچولې وې . بلنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځانګړتیاوې

داځانګړتیاوې دوه ډوله دي : ذاتي او نبوي

ذاتي ځانګړتیاوې هغه دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دامت په مقابل کې ورکړل شوي دي , او نبوي ځانګړتیاوې هغه دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دنورو انبیاوو په مقابل کې ورکړل شوي دي .

## ذاتي ځانګړتیاوې

نبوة او دنبوة لوازم لکه وحي ,الهي انباء , دحضرت جبرایل علیه السلام راتلل ,او داحکاموتنسیخ , داټول هغه څه دي چې دامت افرادو ته ندي ورکړل شوي .بلکه دامت افرادو ته یواځې ریښتینی خوب ,کشف او الهام پاتې دي .عام مسلمانان پدې شرط چې عدل وساتلی شي یواځې څلور ښځې په نکاح کولای شي خو رسول الله صلی الله علیه وسلم تر څلورو زیاتې میرمنې هم په نکاح اخیستې شوې .عام مسلمانان کولای شي چې داهل کتابو له ښځو سره نکاح وکړي خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دا اجازه نه وه او داځانګړتیا یو قید وو . رسول اله صلی الله علیه وسلم ته دا اختیار ورکړل شوی وو چې په موجوده نهو بیبیانو کې څلور ځان ته ورنژدې کړي او نورې سره له دې چې دپیغمبر صلی الله علیه وسلم دنکاح شرف یې درلودخو له ځان څخه یې لرې کړې اوپدې غوراوي کې یې رد او بدل هم کولای شو . درسول الله صلی الله علیه وسلم تر وفات وروسته دهغه پاکې بیبیانې هیڅا هم نشوای په نکاح کولای . دشپې لمونځ (تهجد) دعام امت لپاره مستحب دی خو په رسول الله صلی الله علیه وسلم فرض وو . دڅاښت لمونځ په رسول الله صلی الله علیه وسلم دفرض لمانځه په څیر واجب الادا وو . رسول الله صلی الله علیه وسلم به دمازدیګر تر لمانځه وروسته هم دوه رکعته لمونځ کاوه خو امت ته تر مازدیګر وروسته او تر ماښام له مخه لمونځ کول روا ندي . دامت لپاره پر له پسې(بې له روژه ماتي کولو) روژه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نيول نه دي روا ,خو رسول الله صلى الله عليه وسلم به څو ورځېپه پرله پسېتوګه پرته له ماتولو روژه نيوله . درسول الله صلى الله عليه وسلم اودتـول اهـل بيت لپاره دزكـوة دمال خوړل ناروادي .

## نبوي څانګړتياوې

لـه حـديثو څخـه څرګنـديږي چـې درسـول الله صـلى الله عليـه وسـلم نبـوي ځانګړتياوېپـه لاندېډول دي

## رعب او نصرت

تر رسول الله صلى الله عليه وسلم وړاندېدنبيانو مادي ځواك لږ وو, او كه به دحضرت موسى او حضرت داود او حضرت سليمان عليهم السلام په څير نبيانو مادي ځواك درلـودهم مګـر رعب ورسره نه وو, خو له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره دمادي ځواك ترڅنګ دومـره رعب هم وو چې ډير زورور خلك پرته له جګړې كولو څخه دتسليمې كړی ته راغلل .

## دسجدې عام ځای

تر رسول الله صلى الله عليه وسلم دمخه نبيانو قرباني او عبادت له ځانګړيو ځايونو پرته بـل چيرې نه وو روا, خو درسول الله صلى الله عليه وسلم دين په ځـانګړو ځـايونو پـورې نـدی تړلی ,هر ځای سجده ,دعا او قرباني كيږي .

## دپيروانو ډيربښت

ډيری انبيا عليهم السلام داسې تير شوي چې دامتونو شميره يې دګوتو تر شمير نه ده اوښتې , خو محمدي امت آن درسول الله صلى الله عليه وسـلم پـه ژونـد كـې دومـره ډيـر وو چـې دحجة الوداع په مهال نژدې سل زره كسان درسول الله شاو خـوا راتـول وو اودلبيـك اللهـم لبيك نارې يې وهلې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عامه بلنه

پخوانيو نبيانو به يواځې يوه قوم يا يوه هيواد يا ديوه مهال لپاره مبعوث کيدل خو دمحمدي رسالت لمن له انسانانو څخه پرته آن تر پيريانو هم واوښته او پيريانوته يې هم سمې لاري ته دراتلو بلنه ورکړه .

## جوامع الکلم

پخواني کتابونه او صحيفې يو هم جامعيت نه لري ,په ځينو کې يواځې دقومونو تاريخ دی ځيني يې بيا دعقيدې برخې بيانوي او ځينې نور يې هم داسې درواخله خو قرآنکريم هغه يواځينی جامع کلام دی چې د دين او دنيا ټول ګوټونه يې روښانه کړي ,عقايد ,اخلاقيات ,اومعاملات هرڅه پکې شته هرچا څه ترې ايستلي که څه هم دقرآنکريم ډيره برخه مبارکوحديثو واضحه کړې خو بيا يې هم باريکۍ پاتې دي .

## د دين پوره والی

الهي دين چې له آدم عليه السلام څخه رانيولی بيا تر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم پورې يودين وو او دانبياوو له خوادهمدې يوه دين اصولو ته بلنه کيدله همدا دين دحضرت محمد صلی الله عليه وسلم په بعثت او بلنه سره بشپړشو .

## دنبوت پای ته رسيدل

درسول الله صلی الله عليه وسلم په سپيڅلي ذات ټول پيغمبرانه نعمتونه پای ته ورسيدل ,او دنبوت لړۍ هم پای ته ورسيدله ,اوپدې ډول نو نړيوال دبل پيغمبر دراتګ له انتظار څخه خلاص شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تلپاتې معجزه

دنوروانبیاوو معجزې دهمهغه مهال لپاره وې ,خو محمدي معجزه دتل لپاره ده .که قرآنکریم په هغه مهال دعربو دادب او شاعرۍ په ډګر کې معجزه وه ,خو نن دژوند په هر ډګر کې معجزه ده , دانساني ماغزو نوې لاس ته راوړنه (کمپیوټر) هم نن ناړې وهي چې قرآنکریم یوه معجزه او له هر ډول لاس وهنې څخه خلاص یو کتاب دی .

## دشفاعت کولو مقام محمود

په هغه ورځ چې انسانان دمایوسۍ په حالت کې حضرت آدم علیه السلام ,حضرت نوح علیه السلام ,حضرت ابراهیم علیه السلام , حضرت موسی علیه السلام ,او حضرت عیسی۔ علیه السلام ته ورشي اودشفاعت غوښتنه ترینه وکړي , هر یوبه خپل خپل عذر ورته ووایي او په نفسي۔ نفسي۔ نارو به سر وي خو چې ددواړو کونو سردار محبوب رب العالمین حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ته ورشي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به دلوی پالونکي په دربارکې عرض وکړي , دخدای جل جلاله له لورې به ورته دشفاعت کولو اجازه ورکړل شي او دې ته مقام محمود ویل کیږي دکوم چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دقرآنکریم په سورة اسراء کې ژمنه شویده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کورنۍ

## میرمني

1. خديجه بنت خويلد
2. سوده بنت زمعه
3. عايشه بنت ابي بكر
4. حفصه بنت عمر بن خطاب
5. زينب بنت خزيمه
6. ام سلمه هند بنت ابي اميه
7. زينب بنت جحش
8. جويريه بنت الحارث
9. رمله بنت ابي سفيان
10. ميمونه بنت الحارث
11. صفيه بنت حيي بن اخطب
12. ماريه قبطيه
13. ريحانه بنت زيد قرظي

## زامن

درسول الله صلى الله عليه وسلم داولادونو په شميره کي اختلاف دی خو په کوم روايت چې اتفاق راغلی په هغه کي درسول الله صلى الله عليه وسلم اولاد شپږ ښودل شوی ,دوه زامن او څلور لوڼي ,خو ابن اسحاق دطاهر او طيب په نامه هم درسول الله صلى الله عليه وسلم دوه نور زامن ياد کړي دي . يو روايت لا داهم دی چې دسول الله صلى الله عليه وسلم څلور لوڼي او اته زامن وو . دااتفاقي خبره ده چې له ابراهيم نه پرته درسول الله صلى

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله علیه وسلم نور ټـول اولادونـه لـه ام المـؤمنین حضرـت خـدیجې رضی الله عنهـا څخـه زیږیدلي وو .

1. قاسم حضرت زینب رضي الله عنها
2. حضرت رقیه رضی الله عنها
3. حضرت ام کلثوم رضی الله عنها
4. دجنتي ښځو سرداره حضرت فاطمة الزهرا رضی الله عنها
5. ابراهیم

## ابراهیم

د رسول الله صلی الله علیه وسـلم وروسـتی زوی ابـراهیم دی ,دهجـرت پـه اتـم کـال د ذی الحجې په میاشت کې زیږیدلی ,حضرت ماریه قبطیه رضی الله عنها به په عالیه نومې ځـای کې اوسیدله ابراهیم هم هلته زیږیدلی خلکو به وروسته هغه ځای د ( ابراهیم مشربه) بللـه . په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې دابراهیم زیری ابو رافع وکړ,په زیري کې رسـول الله صلی الله علیه وسلم ورته یو مریي ورکـړ .رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم پـه اوومـه ورځ دابراهیم عقیقه وکړه ,دده دویښتانو په کچ سپین زر یې خیرات کـړل ,او نـوم یـې وربانـدې ابراهیم کیښود . دابراهیم لومړۍ دایه دحضرت ابو رافع میرمن بي بي سـلمی وه , بیـا رسـول الله صلی الله علیه وسلم نوموړی ام سیف ته وسپاره چې دمدینې په شاو خوا کې اوسـیدله , رسول الله صلی الله علیه وسلم به دام سیف کورته دابراهیم دلیدو لپاره ورتلو ,هغه به یې پـه غیږ کې نیولو مینه به یې ورسره کوله او ښکلولوبه یې . ابراهیم دام سیف په کور کې وفـات شو ,دوفات په مهال د دوو میاشتو او لسو ورځو وو ,دزنکدن په مهال یـې رسـول الله صـلی الله علیه وسلم څنګ ته ناست وو ,دجنازې لمونځ یې رسول الله صلی الله علیه وسلم اداکـړ , حضرت فضل بن عباس رضی الله عنه او حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه قبر ته ښکته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ . اللهم اجعله لنا شافعا ومشفعا د رسول الله صلی الله علیه وسلم وروستی زوی ابراهیم دی ,دهجرت په اتم کال د ذی الحجې په میاشت کې زیږیدلی ,حضرت ماریه قبطیه رضی الله عنها به په عالیه نومې ځای کې اوسیدله ابراهیم هم هلته زیږیدلی خلکو به وروسته هغه ځای د ( ابراهیم مشربه ) بلله . په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې دابراهیم زیری ابو رافع وکړ,په زیري کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته یو مریي ورکړ .رسول الله صلی الله علیه وسلم په اوومه ورځ دابراهیم عقیقه وکړه ,دده دویښتانو په کچ سپین زر یې خیرات کړل ,او نوم یې ورباندې ابراهیم کیښود . دابراهیم لومړی دایه دحضرت ابو رافع میرمن بي بي سلمی وه , بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم نوموړی ام سیف ته وسپاره چې دمدینې په شاو خوا کې اوسیدله , رسول الله صلی الله علیه وسلم به دام سیف کورته دابراهیم دلیدو لپاره ورتلو ,هغه به یې په غیږ کې نیولو مینه به یې ورسره کوله او ښکلولوبه یې . ابراهیم دام سیف په کور کې وفات شو ,دوفات په مهال د دوو میاشتو او لسو ورځو وو ,دزنکدن په مهال یې رسول الله صلی الله علیه وسلم څنګ ته ناست وو ,دجنازې لمونځ یې رسول الله صلی الله علیه وسلم اداکړ , حضرت فضل بن عباس رضی الله عنه او حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه قبر ته ښکته کړ . اللهم اجعله لنا شافعا ومشفعا

## لوڼې

درسول اکرم ﷺ څلور لوڼې وې چې عبارت له فاطمه، رقیه، ام کلثوم او زینب رضی الله تعالی عنهن اجمعین څخه وې .

### رقیه رضی الله عنها

رقیه رضی الله عنها هم تر بعثت له مخه زیږیدلې وه ,لومړی نکاح یې دابو لهب له زوی عتبه سره شوې وه , درسول الله صلی الله علیه وسلم بله لور حضرت ام کلثوم رضی الله عنها هم دابو لهب نږور وه ,خو له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ددښمنۍ له امله ابو لهب خپل دواړه زامن ددې بیبیانو طلاقولو ته اړایستل ,او همداسې وشول . حضرت رقیه رضی

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله عنها وروسته حضرت عثمان رضی الله عنه ته په نکاح شوه ,او ورسره يوځای يې حبشې ته هجرت وکړ , بيا مکې ته راغلل او مدينې ته مهاجر شول ,حضرت رقيه رضی الله عنها دبدر دغزا په مهال ناروغه او وفات شوه,ددې دناروغي لـه املـه حضـرت عـثمان رضی الله عنه دبدر په غزا کې او دبدر دغزا له کبله رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې بې په جنازه کې ګډون ونه کړاي شواي . دحضرت رقيي رضی الله عنها پـه حبشـه کې يـو ماشـوم زيږيدلی وو چې عبدالله نوميده او په شپږ کلنـۍ کې وفـات شـو . اللهـم اجعلـه لنـا شـافعا ومشفعا .

## ام کلثوم رضی الله عنها

حضرت ام کلثوم رضی الله عنها دحضرت رقيي رضی الله عنها تر وفـات وروسـته دهجـرت په دؤيم کال حضرت عثمان رضی الله عنه ته په نکاح شوه ,شپږ کاله وروسـته دهجـرت پـه نهم کال دشعبان په مياشت کې وفات شوه ,دجنازې لمونځ يې دپالونکي څښتن محبـوب حضرت رسول اکرم صلی الله عليه وسلم ادا کړ ,حضرت علي رضی الله عنه ,حضرت فضل بن عباس رضی الله عنه او اسامه رضی الله عنه قبر ته ښکته کړه . انا لله وانا اليه راجعون .

## دجنتي ښځو سرداره فاطمة الزهرا رضی الله عنها

حضرت فاطمة الزهر رضی الله عنها تربعثت وړاندې زيږيـدلې او دهجـرت پـه دوهـم کـال حضرت علي رضی الله عنه ته ورواده شوه ,دحضرت فاطمې رضی الله عنها لپـاره حضـرت علي رضی الله عنه خپله زغره په 480 درهمه خرڅه کړه او هغه پيسې يې درسـول الله صـلی الله عليه وسلم حضورته راوړې رسول الله صلی الله عليه وسلم حضرت بـلال رضی الله عنـه ته امر وکړ تر خوشبويي راوړي بيا نکاح سره وتړله شوه . دواده په ورځ رسول الله صـلی الله عليه وسلم حضرت فاطمې رضی الله عنها ته يو کټ ,يوه بستره ,يوڅادر ,دوه ميچنې او يـو مشك ورکړل . تر واده وروسته حضرت علي رضی الله عنه او حضـرت فاطمـة الزهـرا رضی الله عنها له نبوي حرم څخه دباندې په يوه ګوښه کورکې اوسيدل . دحضرت فـاطمې رضی

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله عنهـا پنځـه ماشـومان شـوي : حسـن ,حسـين ,محسـن ,ام كلثـوم او زينـب ,محسـن پـه وړوكتوب كي وفات شو . دجنتي ښځو نوموړې سرداره دنهه ويشتو كلونو په عمر دهجرت په يوولسم كال دروژې په مياشت كې درسـول الله صـلى الله عليـه وسـلم تـر وفـات شـپږ مياشتي وروسته وفات شوه .دحضرت فاطمې رضى الله عنها دوفات خبر رسـول الله صـلى الله عليه وسلم دخپل وفات په مهال داسي وركړى وو ((په ما پسي به تـه ژرراشـې)) . انـالله وانا اليه راجعون .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزاګانې

1. دبدر وتلې غزا
2. د بني قینُعاع غزا
3. داحد وتلې غزا
4. دبئر معونه پیښه
5. درجیع پیښه
6. دبنو نضیرشړل
7. دخندق غزا
8. دبنو قریظه پای

دا خبره ډیره اختلافي ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په څو غزاګانو کې ګډون کړی وو څوك 27 څوك 20او څوك یې بیا 18 ښیي چې مونږ له هغوی څخه لاندې یوڅو غزاګانې را اخلو :

## دبدر وتلې غزا

د بدر غزا د هجرت په دوهم کال درجب میاشت وه چې مسلمانانو دکفارو په یوه تجارتي قافله باندې چې دابو سفیان په مشرئ کې له شام نه مکې ته راروانه وه دبرید کولو تابیا ونیوله 313 تنه مجاهدین چې ٧٤ تنه پکې مهاجر او نور یې انصار وو درسول الله صلی الله علیه وسلم په ملتیا دزرو تنوکفري لښکرو چې له هغه مهال سره سم دهرډول جنګي ساز او سامان په درلودلو سره جګړې ته چمتو ووله مدینې څخه د باندې دمقابلې لپاره راووتل . درمضان المبارك په اوولسمه ورځ دواړه لښکرې سره مخامخ شوې ,خو ترجنګ په مخته شپه کې باران وشو ,دمسلمانانو د لورې شګلنه ځمکه کلکه اودمشرکانو د لورې ځمکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختمې شوه ,په همدې شپه صحابهٔ کرام بې غمه ويـده شـول ,خـو رسـول الله صـلی الله عليـه وسلم ټوله شپه له الله تعالی سره په راز او نياز کې رڼه تيره کړه , دقريشو لښکر ته ارام ورپـه برخه نه شو ,سهار دومره زړه نازړه وو چې دمسلمانانو لښکر ورته په سترګو ډېـر ښـکاريده ,جګړه پيل شوه ډير ژر دقريشو مشران ووژل شول ,او لښکرې يې زړه ماتي او تيښـته پـرې ګډه شوه , دقريشو له لورې اويـا تنـه چې ډيـری يـې مشرـان وو ووژل شـول او همـدومره بنديان شول ,له مسلمانانو څخه څوار لس تنه شهيدان شول چې شپږ تنه پکې مهاجر او اته تنه انصار وو,پدې ډول دا خونړۍ جګړه دمسلمانانو په بري سره پای ته ورسيدله .

## د بني قينُعاع غزا

څنګه چې دمدينې منورې ډيری اوسيدونکي يهودان ووپه دوی کې بني قينقاع ,بني نضـير او بني قريضه غټې کورنۍ وې , د بنـي قينقـاع دکـورنۍ خلکـو زرګـري کولـه ,او پـه نـورو يهودانو کې دوی زړه ور او جنګيالي وو ,له دې کبله لومړی دوی دجګړې داعلان جـرأت وکړ, او دپيغمبر صلی الله عليه وسلم له لورې ورسره شوی تړون يې مات کړ , دبدر دجنګ په شپو کې نوموړې کورنۍ خپله کينه ښکاره کړه ,او ګړبړ يې جوړ کـړ ,ورسره داپيښـه هـم وشوه چې يوه مسلمانه ميرمنه ديهودو هټۍ ته ورغله , هغوی د دې ميرمنې بې پتي وکړه ,يو مسلمان چې هلته ولاړوو هغه يهودي يې وواژه , او يهودو بيا هغه مسلمان شـهيد كـړ . کلـه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر شو نو ورغی او يهودانو ته يې وفرمايل :

ای له خدايه وويرېږئ داسې ونه
شي لکه دبدر په خلکو چې وشول
او په تاسې عذاب راښکته شي

. يهودانو په ځواب کې ورته وويل : مونږ قريش نه يو ,که له مونږ سره مو شخړه پيښـه شـوه نو مونږ به تاسو ته وښيو چې جنګ څه ته وايي ؟ کله چې ديهودو له لورې تړون مات شـو , رسول الله صلی الله عليه وسلم هم دې ته اړشو چې له دوی سره جنګ وکړي . يهودان يې کلابند کړ او دا کلابندي تر پنځلسو ورځو اوږده شوه , وروسته په دې راضي شول چې هره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پریکړه رسول الله صلی الله علیه وسلم وکړي مونږ یې منو ,عبدالله بن ابي چې د دوی سوګندي وو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل چې دوی دې جلاوطنه شي ,هماغه وو چې دایهود چې اووه سوه تنه وو او دریو سوو تنو پکې زغرې اغوستي وې دهجرت په دوهم کال د(وړوکي اختر) په میاشت کې دشام اړوندې سیمې (اذرعات) ته وشړل شول

## د احد وتلې غزا

دا احد غزا د بدر په غزا کې چې کله قریشو ماتې وخوړله او ډیری مشران یې دجنګ په ډګر کې ووژل شول ,نو دوی هم دکسات اخستلو لپاره هلې ځلې پیل کړې ,هغه تجارتي کاروان چې دابو سفیان په مشرۍ له شام څخه راغلی وو ,ټوله ګټه یې دجنګ په تیاري خرڅه کړه . حضرت عباس رضی الله عنه چې مسلمان شوی وو,خولا هم په مکه کې اوسیده ، دیو لیك له لارې رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې لښکر له څرنګوالي نه خبر کړ ,رسول الله صلی اله علیه وسلم هم دحال احوال معلومولو لپاره څوك واستول ,هغوی خبر راوړچې قریش احد ته نژدې رارسیدلي دي . احد دمدینې شمال لورې ته یو نیم میل لرې پروت د یو غره نوم دی . له ډیری صحابهٔ کرامو سره تر مشورې کولو وروسته رسول ا لله صلی الله علیه وسلم دهجرت په دریم کال دشوال په میاشت کې دجمعې په مبارکه ورځ له یوزر تنه نبوي لښکرسره له مدینې نه دباندې ووت ,خو دمنافقینو مشر عبدالله بن ابی ابن سلول له خپلو دریو سوو ملګرو سره بیرته راستون شو ,نو له دې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم سره اووه سوه تنه پاتې شول ,چې په هغوی یواځې سلو تنو زغرې درلودې . رسول الله صلی الله علیه وسلم داحد غره تر څنګ لښکر دا شان برابر کړ چې شایې غره ته شوه ,اودلښکر صفونه (مقدمه , میمنه ,میسره ,اوخلفیه ) یې تیار کړل او قومندانان یې معلوم کړل . رسول الله صلی الله علیه وسلم پنځوس تنه دحضرت عبدا لله بن جبیر رضی الله عنه په مشرۍ دغره دهغه کنډَو دساتلو لپاره وګمارل چیرې چې دشا له لورې دقریشو دبرید ویره وه ,او ورته ویې فرمایل : که په مونږ هرڅه کیدل خو چې تاسې هغه ځای پرې نږدئ ,جنګ په پیل کې ځان ته ځانته وو ,خو وروسته صفونه سره ګډشول ,دقریشو بیرغ وړونکي په یو بل پسې ووژل شول , حضرت علي او حضرت ابو دجانه رضی الله عنهما هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددښمن په لښکر کې لاري جوړې کړې , څو د دښمن پښې سستې او تيښتې ته اړشول ,خو مسلمانانو په غنيمت ټولولو لاس پورې کړ واو دغره دکنډو ساتونکو چې همدا حال وليد ,نو پوه شول چې مسلمانان بريالي شوي او دغنيمت غونډولو مهال دی ,که څه هم حضرت عبدالله بن جبير رضی الله عنه ورته دنه تللو ډير وويل ,خوهغوی لاړل يواځې حضرت عبدالله بن زبيررضی الله عنه له لسو تنو سره پاتې شو ,کله چې خالد بن وليد (چې هغه مهال لا نه وو مسلمان شوی اودکفارو له لورې راجنگيده ) هغه کنډو خالي وليد نو له نورو سپرو سره په هماغه کنډو راواوښت , کوم کسان چې هلته پاتې وو هغوی شهيدان کړل ,او دجنگ ډگرته يې ځان راورساوه ,قريش يې بيرته سره راټول او نوی جنگ پيل شو , مسلمانانو چې دغنيمت غونډولو له امله وسلې له ځانه لرې کړې وې , دومره وارخطا شو چې خپل او پردي يې نه پيژندل ,په همدې وارخطايی کې څو تنه مسلمانان پخپل منځ کې شهيدان شول . جنگ دومره تيز شو چې آن درسول الله صلی الله عليه وسلم په ښکلي رخسار هم دوينو لارې جوړې شوې ,او داغږ پورته شو چې محمد صلی الله عليه وسلم شهيد شو ,خو څو تنه وو چې له خپل ځانونو يې درسول الله صلی الله عليه وسلم دساتلو ډال جوړکړی وو . په نوموړي جنگ کې اويا تنه مسلمانان شهيدان شول ,چې ډير يې انصار وو ,درسول الله صلی الله عليه وسلم تره حضرت حمزه رضی لله عنه هم دشهيدانو دکاروان ملگری وو , چې هندې (دابو سفيان ميرمنې )دحضرت حمزه رضی الله عنه نس څيرې او ځيگر يې را وايست او خوله يې پرې ولگوله . (علماوو ليکلي چې کله هندې ايمان راوړ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې ماته مه رامخامخ کيږه ,هغه ووچې هندې به چيرې رسول الله صلی الله عليه وسلم وليدنو لاره به يې ورڅخه چپوله ) دجنگ په پای کې رسول الله صلی الله عليه وسلم څو تنه وټاکل ترڅو ددښمن څارنه وکړي , پخپله رسول الله صلی الله عليه وسلم هم دوهمه ورځ آن تر اتو ميلو پورې ددښمن څارنه وکړه . همدا جنگ وو چې دمسلمانانو دبې وزلي توب او تش لاسي له امله ,دحضرت مصعب بن عمير رضی الله عنه شهيد وجود نيم په کفن او نيم په وښو پټ کړای شو . که څه هم داحد په غزاکې مسلمانانو ته دسر ډير تاوان ورسيده ,خو ماتې يې خوړلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ده ,ځکه له جنګ پلوه دماتي دوه شرطونه دي : ۱) داچې دهغه هيواد خاوره ونيسي- ۲) دا چې دهغه هيواد پوځ ورك كړي . خو مشركانو نه مدينه ونيوله او نه يې دمسلمانانو پوځ ورك كړ ,ځكه په هماغې ورځ داسلامي لښكر اوياتنه صحابهٔ كرام رضى الله عنهم ددښمن دڅارنې لپاره روان شول .

دبئر معونه پيښه :

دهجرت په څلورم كال دصفر په مياشت كې ,دكلاب دكورنۍ مشر ابو براء رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغى او عرض يې وكړچې : له ما سره يوځو تنه وليږه ترڅو زما قبيلې ته داسلام بلنه وركړي . رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل : زه دنجد له لورې په ويره كې يم ,ابو براء وويل :دهغه ځاى دخلكو ضامن زه يم . درسول الله صلى الله عليه وسلم ويره ځكه وه چې عامر بن طفيل دنجد دسيمې مشر رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ويلي ووچې : زما او ستا تر منځ درې خبرې دي ,لومړى داچې : دكليو او بانډو مشري به ستا وي ,او دښارونو مشربه زه يم ,دوهم داچې ترخپل ځان وروسته ما خليفه كړه ,كه دانه منل كيږي نودريمه خبره داچې ټول غطفان به راټول او سخت بريد به دربانديې وكړي . كله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له ابو براء سره اويا تنه صحابهٔ كرام واستول ,او هغوى بئر معونه نومې ځاى ته ورسيدل ,نو دحضرت حرام بن ملحان رضى الله عنه په لاس يې درسول الله صلى الله عليه وسلم ليك همدې عامر ته واستاوه عامر حرام رضى الله عنه شهيد كړاو له شاو خوا كورنيو نه يې يولښكر تيار كړ ,عامر له همدې لښكر سره دبئر معونه په لورې راروان شو ,صحابهٔ كرام رضى الله عنهم دحضرت حرام رضى الله عنه دراتلو په هيله وو خو داچې ځنډ يې وكړ نو وريسې روان شول ,په لاره دعامر له لښكر سره مخامخ شول ,دعامر لښكر دوى ټول ونيول او هلته يې شهيدان كړل ,خو يو تن عمرو اميه تري ژوندى پاتې شو ,او هغه هم داسې چې عامرورته وويل چې زما مور ديوه مريي دازادولو نذر منلى وو نو زه تا ازادوم . رسول الله صلى الله عليه وسلم چې له نوموړې پيښې خبرشو نو ډير وغميده ,او يوه مياشت يې دسهار په لمانځه كې دې تيرى كوونكو ته ښيراوې كولې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درجیع پیښه :

د بیر معونه له پیښې سره نژدې درجیع پیښه هم یوه زړه دردوونکې پیښه ده . دعضل او قاره دکورنیو څو تنه راغلل او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې عرض وکړ چې لـه مـونږ سره یوڅو تنه دتبلیغ لپاره ولیږه ,رسول الله صلی الله علیه وسلم ورسره دحضرت عاصم بن ثابت په مشرۍ لس تنه صحابهٔ کرام واستول ,کله چې دا مبلغین رجیع نومې ځای ته ورسـیدل نـو دې کسانو ورسره ټګي وکړه ,اودبنو لحیان کورنۍ یـې ولمسـوله ترڅـو دا مبلغین شـهیدان کړي ,هغه وو چې دبنو لحیانو دوه سوه کسان ورپسې راووتل خو دا مبلغـین ورڅخـه یـوې غونډۍ ته وختل ,کفارو ورته وویل راښکته شئ مونږ تاسې ته پناه درکوو ,حضرت عاصـم رضی الله عنه ورته وفرمایل :مونږ له کفـارو څخـه پنـاه نـه غـواړو جګـړه ونښـته او دامبـارك مبلغین شهیدان شـول ,یـواځې دوه تنـه حضرت خُبیـب او حضرت زیـد رضی الله عـنهما دکفارو په خبره تیروتل ,او له غونډۍ څخه راښکته شول ,دښمنانو دهغوی متې وروتړلې او مکې ته یې بوتلل . څنګه چې حضرت خُبیب رضی الله عنه داحد پـه جنـګ کـې حـارث نومې کافر وژلی وو ، نو نومړی هم دحارث زامنو واخیست ,څو یې دخپل پلار په کسات کې ووژني ,کله چې دې کسانو حضرت خُبیب رضی الله عنه دوژلو په موخه دحرم له پولو څخه دباندې بوتلو ,نو حضرت خُبیب رضی الله عنه ورته وفرمایل : اجازه راکړئ چـې دوه رکعته لمونځ وکړم , وژونکو ورته اجازه ورکـړه ,حضرت خُبیـب رضی الله عنـه دوه رکعتـه لمونځ اداکړ اوورته وویل : زما زړه غوښتل چې ډیر لمونځ وکړم خو ستاسې به داخیال شي چې له مرګه ویریـږي (ځکـه نـو پـه همـدې دوو رکعتونـو بسـنه کـوم ) . لـه همـدې مهـال راپدیخوا چې څوك وژل کیږي نو تر وژل کیدو مخه دوه رکعتـه لمـونځ اداکـول وربانـدې سنت بلل شوي ترڅو دحضرت خبیـب رضی الله عنـه دایـاد پـه امـت محمـدي کـې دیـوه ښندونکي دښندوینې د علامې په توګه تر قیامته پورې جاري پـاتې شي . دشـهادت نـه لـږ وړاندې حضرت خُبیب رضی الله عنه داشعر ووایه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



لستُ اُبالي حِينَ اُقتَلُ مُسلِمًا ............ على اَيِ شِقٍ كانَ لِلهِ مَصرَعِ . وذالك في ذاتِ الاِلَه وَاِن يَشَأ ............ يُبارِك على اوصالِ شِلوٍ مُمَزَعِ

ژباړه :کله چې زه دپالونکي ښتن په لاره کې وژل کیږم نو بیا هیڅ پروا نلرم چې په کوم اړخ به ووژلی شم .او که خدای وغواړي نوزما په غوښو اندامونواو بندونو به برکت وکړي .
حضرت زید رضی الله عنه بیا صفوان بن امیه دوژلو لپاره واخیست ,دهغه دوژلو پر مهال دقریشو ډیرو مشرانو دهغه ننداره کوله . کله چې وژونکي توره راواخیسته ,,ابو سفیان وویل :ریښتیا ووایه ! که پدې مهال کې ستا په ځای محمد (صلی الله علیه وسلم) وژل کړل شوی وای نو داکاربه تا خپله نیکمرغي نه وه ګڼلې ؟ حضرت زید رضی الله عنه ورته وویل : زما دې په خدای جل جلاله لوړه وي ,چې زه پدې خبره هم سر ورکولو ته تیار یم چې دمحمد صلی الله علیه وسلم په پښه کې اغزی ولاړ شي , په همدې مهال کې دصفوان مريي (نسطاس ) دهغه سر وواهه . انا لله وانا الیه راجعون .

دبنو نضیرشړل :

له یهودانو سره داتړون هم شوی وو چې که دکومې وینې بیه دمدینې په هستوګنو راتله نو هره کورنۍ به خپله ونډه ورکوي ,کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوو تنو دوینې دبیې دورکولو لپاره بنو نضیر ته ورغی , نو که څه هم په ښکاره ډول خو یهودانو دا غوښتنه ومنله ,خو په پټه یې یو سړی چې عمرو بن حجاش نومیده ,دخونې دوهم پوړته خیژولی وو ,او ورته ویلي وو چې محمد (صلی الله علیه وسلم )دهمدې خونې سیوري ته ولاړدی ,له هغه بامه ډبره ورباندې راواچوه ترڅو ووژل شي ,خو رسو ل الله صلی الله علیه وسلم ته دا دسیسه کشف شوه اوپه سملاسي ډول مدینې ته ولاړ . همداراز بنو نضیر له قریشو سره دمسلمانانو په خلاف په یوه بله دسیسه کې هم ګډون درلود چې دمسلمانانو پټ ځایونه یې ورته ښودلي وو ,سربیره پر دې دیهودو همدې قبیلې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو پیغام هم رااستولی وو چې له دیرشو کسانو سره راشه او مونږ به هم دیرش تنه پوهان درولو ,که هغوی ستا خبرې ومنلې نو مونږبه هم اسلام راوړو .رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرګنده وه چې دوی دبغاوت هوډ کړی ،نو په ځواب کي يې ورته وويل : تر څو تاسې لـه ما سره يو بيل تړون نه وي کړی زه په تاسې باور نلرم .بنو نضير دتړون له کولو پـه شـا شـول ,سره له دې چې د دوی ديني ورونو (بني قريظه )همداسې تړون کړی وو . بل ځل يـې بيـا رسول الله صلى الله عليه وسلم ته پيغام راوليږه چې ته هم درې کسان راوله مونږ به هم درې کسان پوهان درولو نو که هغوی ستا خبر ومنله نو مونږ به هم اسلام راوړو ,رسول الله صـلى الله عليه وسلم دهغوی دا خبره ومنله ,خو په لاره چا خبر ورکـړ چـې يهـود تـوري پـه لاس درته ولاړاوستا دوژلو اراده لري . دبنو نضيرودديې شرارتونو لامل داوو چـې يـو خـو ددوي کلاوي ډيري کلکي وې او له جنګ څخه نه ويريدل , اوبل دوي ته دمنافقينو مشر عبدالله بن ابی تټر وهلی وو چې دچا خبره مه منئ که جګړه ونښته نو بني قريضـه بـه هـم سـتاسي ملاتړ وکړي او زه به هم له دوو زرو کسانو سره ستاسې ملاتړ ته درودانګـم .خـو کلـه چـې اسلامي لښکر درسول الله صلى الله عليه وسلم په امر د دوی کلاګانې محاصره کـړې نـو نـه يواځې داچې بنو قريضه يې ملاتړ ونه کړ بلکه دمنافقينو رئيس عبدالله هم په ښکاره ډول له مسلمانانو سره دجګړې کولو ځواك نه درلود . محاصره پنځلس ورځې اوږده شوه ,پـه پـای کې بنو نضير پدې راضي شول چې هرڅومره سامان په اوښانو وړای شي هغه دې يوسي او له مدينې څخه دې جلا وطن شي . ديهودو دنوموړې کورنۍ ډير کسان خيبر تـه ولاړل ,او په هغوی کې سلام بن ابي الحقيق ,کنانه بـن الربيع ,او حيـي بـن اخطـب غونـدي يهـودي سرداران هم وو ,چې په خيبر کې يـې دومـره درنـاوی وشـو ,چـې دخيبريهودانـو هـم دوی دخپلو مشرانو په توګه ومنل . دهجرت په څلورم کال دربيع الاول په مياشت کې بنـو نضـير وشړل شول ,او مسلمانانو ته له دوی څخه پنځوس زغـرې ,پنځـوس خولونـه ,او درې سـوه څلويښت توري په غنيمت پاتې شوې . والحمد لله على ذلك .

## د خندق غزا :

د خندق غزا کله چې بني نضير له مدينې نه ووتل ,نـو داسـلام پـر خـلاف يـې پـه يـو لـوی سازش لاس پورې کړ , لومړی د دې يهودو مشران مکې ته ولاړل او قريشو ته يـې وويـل : که تاسو راسره مرسته وکړئ نو مونږ به دمسلمانانو جرړې وباسو ,قريشو همدا ورځ غوښـتله

(c) ketabton.com: The Digital Library



. دهمدې ليدنو كتنو پايله دا شوه چې قريشو خپل او يهودو خپل سوگندي سره راټول كړل ,څو تر 24000 ډير پوځ په مدينه باندې دبريد كولو لپاره چمتو شو . رسول الله صلى الله عليه وسلم چې خبر شو نو له صحابهٔ كرامو سره يې مشوره وكړه ,دحضرت سلمان فارسي رضى الله عنه په رايه دخندق په كندلو پريكړه وشوه ,دمدينې ښار دريو لورو ته كلاگانې او ونې درلودې خو شمال لورې خلاص وو,همدې لورې ته دخندق په كندلو پيل وشو .رسول الله صلى الله عليه وسلم دخندق نقشه پخپله وښودله ,په اوسني حساب دا خندق شپږ كلو متره اوږد او پنځه شرعي گزونه كډى وو. دهجرت په پنځم كال د ذي قعدې د مياشتې په اتمه نيټه دخندق كار پيل شو ,رسول الله صلى الله عليه وسلم هرو لسو تنو ته لس گزه ځمكه دكندلو لپاره معلومه كړه ,او پخپله هم په كار لگيا وو ,صحابه و به دكار په ترڅ كې دا ترانه ويله : نحن الذين بايعو ا محمدا ..................على الجهاد ما بقينا ابدا . مونږهغه كسان يوچې له محمد صلى الله عليه وسلم سره مو تر خپله ژونده پورې دجهاد كولو بيعت كړى . رسول الله صلى الله عليه وسلم به ورته په ځواب كې دادعابدرگه كوله : اللهم لا اجر الا اجر الآخرة ................فاغفر الانصار والمهاجرة . اجرخو دآخيرت غوره دى نو اى خدايه ته ښښنه وكړه انصارو اومهاجرو ته . كه څه هم دوي به دلوږې له كبله په نسونو پورې كاڼي تړلي وو , خو بياهم دخندق كار په شلو ورځو كي د دريو زرو تنوپه مباركو لاسونو پاي ته ورسيده . مسلماني ميرمنې او ماشومان دښار خوندي كلاگانو ته بوتلل شول ,او هلته دبنو قريظه ديهودو دبريد له ويرې دوه سوه تنه دحضرت سلمه بن الاكوع رضى الله عنه تر مشرى لاندې سنگري شول ,نور لښكر د(سلع ) نومې غونډۍ په لمن كې مورچې ووهلې . دمسلمانانو په لښكر كې ځينې منافقين هم وو ,چې په يوه او بله بهانه به يې اجازه غوښتله ,او دلښكر له صفونو څخه به وتل ,اودنورو يهودو په لمسون بنو قريظه هم دمسلمانانو په مقابل كې ودريدل . كله چې دابو سفيان په مشرى دكفاروسله وال لښكر په خورا جوش او جذبه مدينې ته راورسيدل نو له خندق سره مخامخ هك پك پاتې شول . دخندق خوا ته يې خيمې ووهلې ,او له هغه ځايه به يې غشي ويشتل ,خو دوه ځلې سخته نښته هم وشوه ,يو ورځ داسې چې دكفارو مشرانو ديوې يوې ورځې دجگړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره تېرونه ووهل ,او هره ورځ به يې بې شميره غشي دمسلمانانو په لورې ويشتل . دوهم ځل دتيري کوونکي لښکر وتلي اتلان له خندق څخه راپورې وتل ,او دننه لورته په جګړه لګيا شول ,په دوی کې عمرو بن عبدود ,نوفل او ضرار هم وو ,خو د دوی په مقابل کې حضرت علي او حضرت عمر رضی الله عنهما په خورا مېړانه وجنګېدل ,عبدود او نوفل ووژل شول او ضرار په تيښته بريالی شو . دا ورځ خورا سخته ورځ وه ,مشرکينو له هر لورې غشي ويشتل ,په همدې ورځ له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پرله پسې څلور لمونځونه قضا شول ,ځکه دغشو دباران له کبله هيڅا هم له خپل سنګر څخه سر نه شوای راپورته کولای , څومره چې جګړه اوږديدله هغومره کفار وارخطا کيدل ,ځکه د څلرويشت زره پوځ توښه اوخرڅ مخ په تماميدو وو . دپالونکي څښتن په قدرت يوه شپه داسې باران او ږلۍ ووريده چې دمشرکينو دخيمو مرانډې يې غوڅ ,او دخوراك څښاك لوښي يې په بل لورې ورته واړول ,په همدې حال کې مشرکين په دې ويره کې وو چې مسلمانان بريد ونه کړي ,نو په سبا يې دماتې او بيرته تلو نغاره وغږوله ,پدې توګه له يوې مياشتې محاصر ې څخه وروسته مدينه له کلابندۍ څخه خلاصه شوه ,د دې تيري کوونکي لښکر په وارخطايۍ کې دنعيم ابن مسعود اشجعي کردار هم دستاينې وړدی . ابن مسعود يو غطفاني رئيس وو ,نوموړی مسلمان شوی وو خو يهود او قريش ورباندې خبر نه وو,او ده ورسره اړيکې درلودې , ابن مسعود بنو قريظه يهودوته چې لا په مدينه کې وو وويل : تاسې او مسلمانان ديوه ښار اوسيدونکي ياست ,که قريش او نور يهود ماتې وخوري نو ستاسي ژوند سختيږي ,ددې لپاره چې قريش تل در سره مرسته ولري له هغوی څخه څو تنه يرغمل کينوئ ,بيا قريشو ته ورغی او ورته ويې ويل : بنو قريظه په تاسو باور نلري هغوی وايي که تاسو له مونږ سره په ژمنه ولاړياست نو څو تنه راسره ګرَو (يرغمل) واوسئ . قريشو چې داخبره واوريدله په بنو قريظه پې باوره شول ,او دازموينې لپاره يې ترې وغوښتل څو د شنبې په ورځ په مسلمانانو بريد وکړي ,يهودو مخالفت وکړ چې پدې څه سره د دوې تر منځ بې باوري لاهم ډيره او دقريشو ملا سسته شوه . دخندق دجنګ دوهم نوم احزاب هم دی ,ځکه پدې جنګ کې دعربو او يهودو ډيرو کورنيواو ډلو ټپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګډون کړی وو,پدې جنګ کې شپږ تنه مسلمانان شهیدان او اته تنـه مشرکین ووژل شـول ,خو د(اَوس )دکورنۍ مشر او دانصارو یو غښتلی مټ حضرت سعد بن معـاذرضی الله عنـه پدې جنګ کې ټپي اوڅوورځې وروسته دهمدې ټپ له امله پـه شـهادت ورسـیده . انـالله وانا الیه راجعون .

## دبنو قریظه پای

له یهودو سره چې کوم تړون شوی وو نو بنو قینقـاع هغـه دبـدر او بنـو نضـیر داحدپـه ورځ مات کړ, له همدې کبله دادواړه یهودي کورنۍ له مدینې څخه جلا وطنې شوې .بنو قریظه دخندق غزا په پیل کې دمسلمانانو لورې ونیو ,دجنګ په جریان کې یوه یهودي ځان هغه کلاوو ته ورساوه چیرې چې مسلمانې میرمنې او ماشـومان اوسـیدل ,هلتـه حضرـت حسـان رضی الله عنه پهره کوله ,خو داچې په جنګ کې دیوې پیښې له کبله یې ونه شوای کـولای هغه یهودي ووژني ,حضرت صفیې رضی الله عنها دحضرت حمزه رضی الله عنـه خـور بې بې هغه یهودی وواژه ,توره یې ترې په غنیمت کـې واخیسـتله اوسر یـې دکـلا شـاته وغـور ځاوه , یهود پوه شول چې دلته هم وسله وال کسان شته ځکه یې نـو بریـد ونکـړ . دجنـګ په مهال کې رسول الله صلی الله علیه وسلم دبنو قریظـه یهودوتـه حضرـت سـعدبن معـاذ او حضرت سعد بن عباده رضی الله عنهما ورواستول ,څو هغوی ته لیکـل شـوی تـړون وریـاد کړي ,خو هغوی وویل محمد څوك دی او تـړون یـې څـه شی دی ؟ ځکـه نـو دې یهـودو دخندق په جنګ کې عملا برخه واخیسته ,او دماتې پر مهال یې هـم داسـلام لـوی دښـمن ,دبنونضیر دجلاوطن شوو یهودو مشر حُیَـي بـن اخطـب لـه ځانـه سره راوسـت ,حُیَـي بـن اخطب دجلاوطنۍ په مهال ژمنه کړې وه چې دمسلمانانو په خلاف به دچا مرسته نـه کـوي ,خو په نوموړې جنګ کې یې نه یواځې داچې دقریشو مرسته یـې وکـړه بلکـه دمسـلمانانو حلیف (سوګندي) یهود بني قریظه یې هم جنګ ته ولمسولو . دخنـدق دجګـړې پـه پـای کې رسول الله صلی الله علیه وسلم امر وکړ چې وسلې مه ږدئ او په بنو قریظه بریـد وکـړئ ,دلښکر په وړاندې حضرت علي رضی لله عنه دهغوی کلاګانو ته ور سید,که بنو قریظه بیـا هم د روغې جوړې لاره نیولې وای شوني وه چې امان یې موندلی وای ,خو دوی دجنـګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تياري نيولې وه ,او دحضرت علي رضی الله له رسيدو سره سم يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په شان کې ستغې سپورې وويلې . درسول الله صلی الله عليه وسلم په امر يې کلاگاني محاصره شوې ,او دا محاصره تر يوې مياشتې اوږده شوه ,په پای کې يهودو وويل هره پريکړه چې سعد بن معاذ رضی الله عنه وکړي مونږ يې منو ,(هغه مهال حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه زخمي وو شهيد شوی لا نه وو , ) يهودو فکر کاوه چې له سعد رضی الله عنه سره د هغوی د نيکيو له امله چې ښايي په يوه مهال به يې ورسره کړې وي لـه کبلـه ممکن حضرت سعد د دوی په گټه يوه پريکړه وکړي خو داسې ونه شول بلکه : حضرت سعد بن معاذرضی الله عنه پريکړه وکړه چې دبنو قريظه يهودو جگړه مار کسان دې ووژل شي ,ښځې او ماشومان دې بنديان او مال دې غنيمت ونيول شي . داپريکړه حضرت معاذ رضی الله عنه دتورات له حکم سره سمه وکړه ,رسول الله صلی الله عليه وسلم ته به چې په هغه مهال کومه خبره ښکاره نه وه راغلې نو دتورات احکام يې عملي کول ځکه يې نو پدې پريکړې سره حضرت سعدرضی الله عنه ته وويل چې تايوه اسماني پريکړه وکړه . د بنو قريظه يهودو دا پريکړه ومنله او ځانونه يې دوژلو ځای ته حاضر کړل , ددې پريکړې په کولو سره دبنو قريظه مسأله پای ته ورسيده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مړینه

د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم آرامځای

## ناروغي

دڅار شنبې په ورځ چې دصفر دمیاشتې اتلسمه یا نولسمه نیټه وه ,رسول الله صلی الله علیه وسلم جنت البقیع ته چې دعامومسلمانانو هدیره وه ولاړ ,کله چې له هغه ځایه راستون شونو ناروغه شو,دحضرت میمونې رضی الله عنها کره یې شپه تیره کړه ,د دوشنبې په ورځ درسول الله صلی الله علیه وسلم ناروغي زیاته شوه , او دنورو بیبیانو په خوښه دحضرت عایشې رضی الله عنها کره ولاړ ,ترڅو پورې چې یې دګرځیدو ځواك درلود نو مسجد ته به یې تشریف وړلو ,وروستنی لمونځ دماښام لمونځ وو چې مسلمانانو په رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې ادا کړ. دامهال درسول الله صلی الله علیه وسلم سر خوږیده او تړلی یې وو ,همدا شپه ماخوستن وار په وار بې هوښې وربانديې راتله ,او امر یې وکړ چې حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه دې لمونځ ورکړي . بله ورځ ماسپښین درسول لله صلی الله علیه وسلم ناروغي یوڅه کمه وه ,غسل یې وکړ ,د حضرت عباس او حضرت علي رضی الله عنهماپه اوږو باندې یې ځان تکیه کړاوجُومات ته ولاړ ,هلته دابو بکر رضی الله عنه په امامت لمونځ ولاړوو ,چې دهغه ترڅنګ کیناست او خلکو ته یې لمونځ ورکړ ,وروسته یې یوه لنډه خطبه وویله ,دادرسول الله صلی الله علیه وسلم وروستۍ خطبه وه چې پکې یې وفرمایل : (خدای جل جلاله یوه بنده ته واك ورکړی چې ددُنیاوي نعمتونو اویاهم دخدای له لورې داُخروي نعمتونو له منځ نه یوخوښ کړي. بنده هغه شیان دځان لپاره غوره کړل چې له آخرت سره اړیکې لري. حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه وژړل ځکه پوه شو چې هغه بنده پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم دی ,رسول الله صلی الله علیه وسلم دابوبکر صدیق رضی الله عنه په اړه وفرمایل ترټولو زیات چې زه دچا له شتمني او ملګرتیا څخه خوښ یم هغه ابوبکر دی .) همداراز یې په خطبه کې دانصارو په هکله وفرمایل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ای خلکو زه دانصارو په هکله تاسې ته وصیت کوم ,عام مسلمانان به ډیریږي خو انصاربه دومره لږ شي لکه په خوړو کې مالگه ,انصارو خپله دنده تر سره کړه ,اوس په تاسو دهغوی دپور پرې کول فرض دي ,انصار زما په وجود کې دمعدې په څیر دي ,هرڅوك چې ستاسو دگټو او تاوان واکدار (خلیفه) وي نو دهغه دا دنده ده چې که هرڅوك په انصارو کې ښه وي ومني ,او که له چا څخه کومه تیروتنه شوي وي نو هغه دې وبښي . ) رسول الله صلی الله علیه وسلم ترناروغتیا یوه ورځ وړاندې حضرت اسامه رضی الله ته امر کړی وو چې درومیانو جگړې ته لاړشي ,خو دهغه له قوماندې څخه دنومړي دځواني له کبله شکایت وکړ ,رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې اړه پخپله خطبه کې وویل : (که داسامه په سرداری تاسې نیوکه لرئ نو دده دپلار په سرداریٔ هم تاسې نیوکې کولې زما دې په سپیڅلي خدای لوړه وي چې اسامه د دې دندې حقدار او مستحق دی , هغه په ما ډیر گران دی ,او تر دې وروسته به هم په ما گران وي .) رسول الله صلی الله علیه وسلم دخطبې په ترڅ کې داهم وفرمایل : (دحلال او حرام نسبت دې ماته نه کیږي ,ما هغه څه حلال کړي چې هغه خدای جل جلاله پخپل کتاب کې حلال کړي ,او ما هغه څه حرام کړي چې خدای جل جلاله حرام کړي دي). رسول الله صلی الله علیه وسلم دا هم وفرمایل چې : (ای دخدای دپیغمبر لورې فاطمې ! او ای دخدای دپیغمبر عمې صفیې! دخدای او آخرت لپاره څه عمل وکړئ زه تاسې له خدای جل جلاله څخه نشم خلاصولای ). د نومړې خطبې له ویلو وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم بیرته دحضرت عایشې رضی الله عنها کورته تشریف یووړ , دناروغتیا په نا کراری کې نبوي ذات ته ورپه یادشول چې څه اشرفی یې له بي بي عایشې سره ایښې وې هغه یې راوبلله اوورته ویې فرمایل : (عایشې! هغه اشرفی چیرې دي ؟ محمد(صلی الله علیه وسلم ) به له خدایه جل جلاله سره پداسې حال کې ووینې چې دی په هغه بد گمانه وي , لاړه شه او هغه دخدای جل جلاله په لاره کې خیرات کړه . ) ددوشنبې په سهار چې درسول الله صلی اله علیه وسلم دناروغتیا دیارلسمه شپه وه چې رسول لله صلی الله علیه وسلم دخپل کور له وره (دروازې) نه پرده پورته کړه ,ویې لیدل چې خلك په لمانځه ولاړدي ,ډیر خوښ اوموسکی شو ,حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابوبکر صدیق رضی الله عنه فکر وکړ چې رسول الله صلی اله علیه وسلم لمانځه ادا کولو ته راځي ځکه یې نووغوښتل چې شاته شي ,خو رسول الله صلی الله علیه وسلم په اشاره پوه کړ چې لمونځ ورکړي ,رسول الله صلی الله علیه وسلم بیرته حجرې ته ننوت ,دا هغه وروستنۍ لیدنه وه چې صحابهٔ کرامو له نبوي سپیڅلي څیرې نه وکړه .

## د مړینې کال

رسول الله صلی الله علیه وسلم به هر کال دروژې په میاشت کې لس ورځې په اعتکاف کې تیرولې ,خو په ورستنۍ روژه کې شل ورځې په اعتکاف کې کیناست ,رسول الله صلی الله علیه وسلم به هر کال دروژې په میاشت کې یوځل دحضرت جبرایل علیه السلام له خولې نه قرآنکریم اوریده ,خو د ورستني کال په روژه کې یې دوه ځلې واوریده . دوروستني حج او په ځینو نورو خطبو کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ځیني داسې خبرې کړې وې چې هغه دمړینې یادونه وه ,لکه چې دحج په وروستۍ خطبه کې یې وفرمایل : (زه ددې خبرې هیله نلرم چې په راتلونکي کال کې له تاسې سره ولیدلای شم ,ښایي تر دې وروسته حج ونه کړای شم . ) دحج دفریضې داداکولو ترراتګ وروسته رسو ل الله صلی الله علیه وسلم داحد دشهیدانو هدیرې ته ورغی ,او هلته یې هم داسې خطبه وویله چې ګواکې څوك له مړواو ژوندو سره په مخه ښه کوي ,رسول الله صلی الله علیه وسلم دصفر دمیاشتې په اولسمه یا اتلسمه نیټه حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه ته وفرمایل : (ته له لښکر سره لاړشه او له هغو شریرو خلکو څخه دې دپلار کسات واخله . ) دموته په وتلي جنګ کې حضرت زید رضی الله عنه شهید کړای شوی وو ,ځکه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه ته هلته دبیا تللو امر وکړ .

## تجهیز او تکفین

د سې شنبې ورځ د تجهیز او تکفین ورځ وه حضرت علي رضی الله عنه ,فضل بن عباس رضی الله عنه ,او حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه غسل ورکړ ,په همدې مهال کې حضرت عباس رضی الله عنه هم حاضر وو ,او یو انصاري حضرت اوس بن خولې رضی الله عنه اوبه راوړې ,دکفن لپاره دسپنسیو درې سپینې ټوټې غوره شوې . تر غسل او کفن

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته دا پوښتنه راپیدا شوه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به په کوم ځای کې خاوروته سپارل کیږي ؟ حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه وویل :انبیا چې چیرې وفات شي هلته خاورو ته سپارل کیږي ,په همدې خبره اتفاق راغی او په کوم ځای کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شوی وو په هماغه ځای کې دقبر کنلو کار پیل شو , داځای دحضرت عایشې رضی الله عمها داوسیدلو خونه وه ,دقبر په سرهم خبره راپورته شوه ,ځکه حضرت ابو عبیده بن جراح رضی الله عه به دمکې دخلکو په ځیر بغلي قبرونه کیندل ,او حضرت ابو طلحه رضی الله عنه به بیا دمدینې دخلکو په دود لحدي قبرونه ایستل ,نو دا خبره کیدله چې اوس څوك او څه ډول قبر وکندي ؟ حضرت عمر رضی الله وویل : په همدې دواړو اصحابو پسې څوك واستوئ ,هر یو چې لومړی راغی هغه دې دخپلې خوښې قبر وکندي ,په دواړو صحابه و پسې سړي واستول شول ,حضرت ابو عُبیده بن جراح رضی الله عنه په کور کې نه وو ,حضرت ابو طلحه رضی الله راغی او لحدي قبر یې جوړکړ , څنګه چې دقبر ځمکه نمجنه وه نو هغه بستر یې پکې وغوړاوه په کوم کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شوی وو . کله چې جنازه تیاره شوه نو خلك دلمانځه لپاره رامات شول ,خونې ته وار په واروننوتل او لمونځونه یې کول ,دالمونځونه پرته دچا له امامت نه ترسره شول ,لومړی نارینه و بیا ښځینه و او ورپسې کوچنیانو دجنازې لمونځونه ادا کړل .درسول الله صلی الله علیه وسلم مبارك جسد حضرت علي مرتضی رضی الله عنه ,حضرت فضل بن عباس رضی الله عنه ,حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه ,او حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه قبر ته ښکته کړ . انا لله وانا الیه راجعون .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نور لوستل

## ام سلمه هند بنت ابي اميه

ام سلمه هند بنت ابي اميه چې د بي بي سلمه په نامه هم پیژندل کیږي د اسلام د وروستي پیغمبر میرمن وه. دپلارنوم یې سهیل اودمورنوم یې عاتکه وو. نوموړې په لومړني سرکې دخپل اکا د زوی او درسول الله صلی الله علیه وسلم درضاعي ورور عبدالله بن عبدالاسدپه نکاح کې وه. نوموړې له خپل میړه سره یوځای حبشې ته هجرت وکړ. هلته یې دسلمه په نوم زوی وزیږید. وروسته مکې ته راغله اوبیایې دلومړنیومسلمانو میرمنو په کتارکې مدینې منورې ته هجرت وکړ. میړه یې عبدالله دخپل وخت له وتلیو آس زغلونکو شمیرل کیده .دبدر او اُحدپه غزاگانو کې یې برخه اخیستې وه. دأُحدپه جگړه کې دخوړلوټپونو له امله یې دهجرت په څلورم کال سترگې له نړۍ پټې کړې. رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه دجنازې پرمهال نه تکبیرونه وویل. له لمانځه وروسته چا ترې وپوښتل چې یارسول الله تیروتنه خوبه مو نه وي کړې؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې ابوسلمه دزرو تکبیرونو حق درلود. رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته اُم سلمه ته دنکاح وړاندیز وکړ خو هغې عذر وواېه. رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې وویل چې یو خو زه خوراقهرجنه میرمن یم، ډیراولادونه لرم ,او بله داچې عُمر مې ډیردی. خورسول الله صلی الله علیه وسلم ددغو عذرونو سربیره له هغې سره نکاح وکړه. نوموړې یوه پوهه اوهوښیاره میرمن وه. دحدیثونو له مخې دغه بي بي له عایشې رضي الله عنه نه وروسته دافضلیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهمه درجه لري. اُم سلمه رضي الله عنها د84 کلونوپـه عُمـر ترټولوبيبيـانو وروسـته وفـات شوه. دجنازې لمونځ يې حضرت ابوهريره رضی الله عنه اداکړ.

## زينب بنت جحش

زينب بنت جحش حضرت زينب رضي الله عنها درسول الله صلی الله عليه وسلم دترور لور وه, دا بي بي لومړی حضرت زيد رضي الله عنه ته واده شـوې وه ,خـوداچې حضرت زيـد رضي الله عنه يو آزاد شوی مريی وو نو ځکه ورسره ددې وخت نـه تيريـده ,حضرت زيـد درسول الله صلی الله عليه وسلم په خوښه دې ته طلاق ورکړ,وروسته ورسره رسول الله صلی الله عليه وسلم نکاح وکړه. دنکاح په مهال يې عمر 35 کاله وو ,دا دومـره پرهيزگـاره مـيرمن وه چې کله ورته رسول الله صلی الله عليه وسلم دنکاح پيغام ورواستاوه نودې په ځواب کې ورته وويل چې زه به استخاره وکـړم ,همـداراز کلـه چـې پـه ام المـؤمنين حضرت عايشـې صديقې پسي بهتان وويل شو نو حضرت زينب رضی الله عنهـاسره لـه دې چـې دحضرت عايشې رضي الله عنها بَن وه دحضرت عايشې په اړه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل چې : زه دعايشې له ښو اخلاقو پرته په بل هيڅ شي نه يم خبره .حضرت عايشـې رضي الله عنها هم دزينب په فيـاضي داسـې اقـرار کـړی چـې : زينـب رضي الله عنهـا ډيـره قانعـه او دفياض طبيعت ميرمن وه. رسول الله صلی الله عليه وسلم پاکو بيبيـانو تـه ويـلي وو چـې لـه تاسي څخه به ډير ژر هغه څوك له ما سره يوځاي شي چې دهغې لاسـونه اوږده وي ,پـاکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيبيانو به خپل لاسونه سره کچل ,خو پدې استعاره کې دحضرت زينب رضی الله عنها فياضي او سخا ته اشاره وه, دې به پخپل لاس پيسې بيامونډلې او هغه به يې دخداي جل جلاله په لاره کې خرڅ کولې. همدا نبوي وړاندوينه دحضرت زينب رضي الله عنها په اړه ريښتيا شوه او درسول الله صلى الله عليه وسلم له وفاته وروسته په بيبيانو کې حضرت زينب رضي الله عنها تر ټولو لومړۍ دهجرت په شلم کال دخپل عمر په 53 کلنۍ کې وفات شوه.

جويريه بنت الحارث

حضرت جويريه رضي الله عنها دحارث بن ضرار لور وه ,حارث دبنو مصطلق دکورنۍ مشر وو ,حضرت جويريه لومړی دمسافع په نکاح کې وه ,هغه دبنو مصطلق يا مريسيع په غزا کې مړشو ,په نوموړې جګړه کې مسلمانانو ته ډيرې مرييان او مينځې په لاس ورغلل ,جويريه رضي الله عنها دثابت بن قيس په برخه شوه ,خو جويريي دنهو اوقيو سرو زرو په بدل کې دمکاتبت تړون وکړ ,هغه هم راضي شو ,جويريه رضي الله عنها درسول الله صلى الله عليه وسلم حضور ته راغله او دمرستې غوښتنه يې ورڅخه وکړه ,رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې که زه دابيه پرې کړم او تا په نکاح کړم نو ښه به نه وي ؟ جويريي داخبره خوښه کړه ,رسول الله صلى الله عليه وسلم په هغې اندازه سره زر ورکړل او دايي ازاده بيا يې په نکاح کړه. دهمدې نکاح له برکته دجويريي رضي الله عنها دکورنۍ ټول غړي مرييونه او مينځې ازادې شوې ,ځکه چې صحابهٔ کرامو وويل چې دا کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



درسول الله صلی الله علیه وسلم خسرګنۍ شوه ځکه يې نو ټول ازاد کړل. حضرت جویریه رضي الله عنها دهجرت په پنځوسم کال د65 کلونو په عمر وفات او په جنة البقیع کي خاورو ته وسپارل شوه. انا لله وانا الیه رجعون.

ترتیب کونکي زاهد الله درویش الحنفي الوزیرستاني

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**